# د شام شهید

## محمد عثمان

د شهید له ژونده یو څو مرغلري



Ketabton.com

لیکنه: د شهید محمد عثمان مېرمن

ژباړن: م. محمد امید

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د ښکلي سيرت او مهربان زړه درلودونکي ته،
هغه تودوخې ته چې د بيلتون يخني مې هيڅکله نه وړپرېږدي،
هغه ښکلي او ښېرازه يادګار ته چې زما په ژوند کې به هېڅکله له منځه ولاړ نشي،
هغه چا ته چې ماته يې په صبر او حکمت سره د ژوند په پوړيو پورته کېدل وښودل،
هغه چا ته چې د مهربان پلار، غوره او نيکي کوونکي خاوند لپاره نمونه مثال وو .
او هغه چا ته چې د خپل چاپيريال لپاره روښنايي، په سخت وخت کې ملګرى او تکيه ګاه وو .

زما شـــهيد خاوند محمد عثمان ته! چې زموږ په زړونو کې د هغه ونې په شـــان ژوندى دى، د کومې چې ريښې کلکې او څانګې يې تر آسمانونو پورې رسېدلې وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

« او شــهيدان مې وليدل چې اهر يو له خپلې باغچې سره ولاړ وو، په هغه څه خوشــاله وو چې دوی د خپلو ځانونو لپاره وړانــــــدې ليږلي وو، او مړو ته يې د دوهم ځل ژوندي کېدلو هيله وربښله » .

« محمود درويش »

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ژباړن سریزه

د اسلامي امت امتیاز له نورو امتونو څخه دا دی چې د جهاد له لارې ځان شهادت ته رسوي، له همدې کبله خو په ختیځ او لویدیځ کې وروستی کامیابي د همدې امت په برخه شــوې، نو شــهادت د اسـلام په سـپیڅلي شریعت کې ډېر سـتر مقام او لوړه مرتبه لري، د حقیقي محبت پایله او د ابدي ژوند پیلامه ده، هغه څوک ډېر بختور دي چې د الله ﷻ په لاره کې د شهادت لوړ اعزاز تر لاسه کړي .

هو، ګرانو لوستونکو!

شهادت د اسلامي امت له شتون سره یوه نه بیلېدونکې سلسله ده، چې همدا سې به روانه وي او همدا قرباني ده چې د امت راتلونکې روښانه کوي، او تېر برم ته یې ورګرځوي.

د دې لړۍ له ځلانده سـتورو څخه یو هم د سـوریې ادلب ښـار اوسـېدونکی اتل او قهرمان شهید محمد عثمان وو .

شــهید محمد عثمان نه یواځې د مجاهدینو تر منځ بلکې په ټول امت کې یو پېژندل شوی شخصیت وو، هغه د چا خبره:

سنګرونه پرې ودان وو .

غیرتونه پرې ودان وو .

غازیان به پرې ډاډه وو .

جهادونه پرې ودان وو .

لنډه دا چې شهید محمد عثمان یو مخلص، متدین، مدبر او تقوا داره انسان وو، هغه له خپل رب سره سـودا وکړه او په خپله سـودا کې بریالی شـو، نو ځکه به یې تاریخونه تل ستایي او پر غیرتونو به یې ویاړي .

له جهادي مداره وتلی ستوری محمد عثمان بیا نه راځي، هغه شهید شو، نو ځکه خو هغه ښاغلی، منلی او سپیڅلی دی .

پرون هم د آسیا په زړه افغانستان کې د عثمان په شان زرګونه ځوانان د اسلامي امت د روښـانه راتلونکې په پار په اور کباب او له خپل رب سره د کړې سـودا په کولو د تل لپاره کامیاب او بریالي شول، نن په شام او غزه کې دا سودا روانه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چې دغه کتابګوټی له دغه  شهید ښځه د پاتې  شوې  ځوربدلې، کړېدلې، دردېدلې او دردمنې کونډې د احســاســاتو او عواطفو مجموعه ده نو له عربي ژبې ښځه په ژباړه کې هم تر ډېره دا هڅه شوې چې د الفاظو او جملو سرببره د هغه د احساساتو ترجماني وشي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

په دنیا کې ســتومانه انســانان ډېر دي، چې له جملې څخه يې هغه خلک هم دي کوم چې د الله په تقدير او فيصـله باندې په چوپه خوله صـبر کوي، دوی خپلو دردونو ته د زړه په تل کې له خښــولو پرته بله چاره نه لري، بيا چې په دغه دردونو باندې د زړه دروازې را بندې شي، نو بې اختياره يې د زړه او ښکو واګي د دې لپاره خو شې شي، ترڅو په چيغو سره د هغه د ښکاره کولو ځای ونيسـي، چې ټپي زړونه يې د برداشت توان نه لري .

شــپه پيل او خپل لومړني تارونه يې اوړده کړل، او ټول آســمان يې په خپله تياره کې راونغښت، لکه څرنګه چې زما ژوند له همدې شيبې تياره شو .

زه په دې وطن کې يوه نابلده مېرمن وم، پر دې نه پوهېدم، چې د کور له څلورو ديوالونو څخه د باندې پرته له هغه قبر څخه نور څه شــته او که نه ؟ کوم ته چې ســتا د جنازې لپاره پر خپلو پښو ولاړم او په کوم ځای کې چې جسد له منځه ځي او روح هميشه پاتې کيږي .

دا هغه حقيقت دی چې پرته له منلو يې بله چاره نشــته.... مګر زه له تا وروســته څنګه ژوند وکړم؟

زه هغه ځوک يم چې فکر مې کاوه، يوازې ستا په لرې والي به زما ساه بنده شي؛ مګر اوس، ستا آرامه ساه زما لپاره د سـورلۍ شـا ګرځېدلې تر څو يوې خيالي نړۍ ته پرې لاړه شـم، کومه چې زما پر لويه او پاشـل شـوې سـاه باندې ولاړه وي، د دې لپاره چې تا، زه يو ځل بيا د خپلې کتابچې په پاڼو کې را ژوندی کړم، تر څو هغه ځوک چې له ما وروســته دا ولولي، پوه شي، چې د دې مجاهد شاته څه وو، چا چې خپل ځان او وينه د دغه سوبې او بريا پر لار قربان کړه .

زه به ژر خپل تکليف او مصيبت وليکم .

الله ﷻ موږ د خپلو محبوبانو له جدايي وروســته پر دې خالي، بې ميني او اوږده دنيا کې د دې لپاره پريښــي يو، چې زموږ لپاره يې په داســې ځای کې نيکمرغي ليکلې، کوم چې موږ هغه اوسمهال نه وينو ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناڅاپه د نیکمرغۍ له یوې بشــپړې برخې سره راغلې، زما د وجود د ننه دې هغه پټه ځمکه (زړه) را ژوندی کړ..

پر خپلو هـسکو او غښتلو صفاتو، ګړندي معرفت (پوهې)، باریک او اغېزمن فکر سره باقي پاتې شوې... تر دې چې سخت جنګ راغی... نو یو په یو ولاړې .

له تا وروسته زما لپاره خوشالي نشته..

زما سوکالي له تاسره وه چې پر دې دنیا کې اوس نشته .

ته خپل اصــلي کور ته ولاړې، له نعمتونو ډکو جنتونو ته ولاړې، او زما لپاره پرته له دې بله لاره نشته، چې خپلې ټاکلې ورځې په قرار زړه او آرامه ساه باندې د هغه لارې په پلي کولو سره تېرې کړم، کومه چې مو غوره کړې وه، تر څو له تا سره په هغه بل ژوند کې تر یو ځای کېدلو پورې ورسېږم .

زما خوښي ستا په اړه د خوبونو لیدل دي، د کومو چې زه په خوب او خیال کې انتظار باسم، ته د هغه ستورې په شان یې چې یوه شیبه پټ او بیا ښکاره شي چې په ښکاره کېدلو سره یې زما ټوله دنیا روښانه شي .

ډېر په بېړه ولاړې، او زه له تاسره د یوې کمزورې ډیوې په شـان وم چې له تا وروســته مې حال د جوړښت او تسلۍ وړ نه دی...

زه به تر هغه همدا سې نابلده او ناآ شنا وم تر څو له تا سره په هغه بل ژوند کې یو ځای شـــم، او په دې دنیا کې به مې ته ونه وینې، او که چیرې دې بالفرض وکتلم، نو ســـترګې به دې په داسې یو ګل ولګیږي، چې د شمال او جنوب لخوا را آلوتو بادونو یې څانګې ټولې غورځولې وي.

ته زما نه مخکې لاړې، حال دا چې زما هیله له تا د وړاندې تګ وه، او غوښـــتل مې چې په دنیا کې وروســتی شـی ګورم هغه ســتا مخ وي، زما هیله د داسـې خدای پامانۍ وه، چې زما سترګې له پورته څخه د ښکته په لور له او ښکو ډکې پټې شي، نه ستا سترګې، پر دغه مهال به زما رحلت په ناآشنا آرامتیا او لوی امان سره شوی وي، او پر دغه مهال به هیڅ تشـویش نه وي، مګر اوس، ګویا زما تر پښــو لاندې اور دی او دا حالت به تر هغه وي، تر څو له تاسره یوځای شم ...

تر قیامته پورې دې پر تا سلام وي، چې له هغه څخه پرته بل ځای ته پناه نشته .

چهارشنبه

۲۰۲۳/۱۱/۱۵ م .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ماشومتوب له سختيو او خاطرو څخه سره يو څو شيبې

زه خپل قدمونه پر همدغه لار باندې ږدم ..

دلته دنيا ستا له دنيا سره ورته نه ده..

زه له خپلو خاطرو سره ډېره تم کېږم، تر څو مې د دغه شيبو خوښی ته ورسوي،

د دې پېښې له پېښېدلو وړاندې يې لاملونه ډېر دي .

د لمر راختلو او ډوبېدلو پر مهال، د شـــپې راتللو او تېريدلو وروســـته، په ســـتورو او د هغوی په پړقېدلو کې د سوچ پر مهال... زه ځان ته دغه شيبې حاضروم، د ونې لاندې او په پراخه سيوري کې زه پر تا پسې ليکل کوم او زموږ په فاني نړی کې گرځم، نو ناڅاپه له دې حقيقت سره مخ شم چې ته داسې تللی يې چې بيا نه راگرځې...

سيرت دې ښکلی او يادونه دې خوشبويه دي...

زما د قلم وزر مات دي، ستا د انصاف او هغه بلاغت د توصيف په اړه چې ما ليدلی او خبر رارسېدلی، گواهي يې ناقصه ده ...

زه له الله ﷻ څخه د دې لپاره مرسـته او ملگرتيا غواړم، تر څو زما د تورو ښـکلا سـتا د سهار او ماښام، پر تا د زيات فرياد او زخمي کېدلو، ستاسو د بې کچې مينې په يادولو کې چې په زړونو کې ځلېږي، زړونه روښانه کوي او د اړمنو کسانو مرسته کوي، ښايسته کړي .

ستا له شهادت وروسته همدا زما لپاره سکون او آرام دی .

اوس زما له آنده د دنيا شتون او نشتون يو برابر دی، همدا راز ځمکه ستا له پيدايښت مخکې همداســې وه، هغه ورځ چې تا لومړی ســاه پکې واخيســته، د ۲۰۰۰ ميلادي کال د دوولسمې مياشتې پنځه ويشتمه نېټه وه [1] .

محمد، هغه نوم دی چې پر تا يې اطلاق کېږي، ياد نوم تا په ريښتيني مانا باندې له هغه وخت راهيســې وپېژندو، کله چې تا د دغه نوم پر تورو تلفظ پيل کړ، تر دې چې ســتا پېژندگلوي زياته شـوه، نو تا د نړی تر ټولو اوچت انســان وپېژندلو، تا د هغه پيروي وکړه، د هغه د شفاعت اميدوار شوې، د هغه په جهادي مسير باندې روان شوې، شايد چې دا پيروي

---

[1]- پوره نوم يې محمد علي حاج ابراهيم دی، په ۲۰۰۰/۱۲/۲۵ م کال کې زيږېدلی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

په فردوس جنت کې ستا لپاره د هغه د ملگرتیا سبب شي، زه هیله لرم چې همداسې به وي، لکه څرنگه چې پخوا وو ... تا د خپل نامه له تاثیر څخه لویه برخه اخیستې وه .

کنصــفرة، هغه ځای چې تا د لومړي ځل لپاره پکې رشـــد او نمو وکړه، د هغه د اوســېدونکو طبیعت دې خپل کړ، د یاد کلي په مدرســو وگرځېدې، په کلي او گاونډیو ښارونو کې یې تا تگ راتگ وکړ، له وړوکوالي څخه دې کشف او پلټنه خوښه وه، لکه د نورو ماشــومانو په څېر پر تا د تعجب او حیرانتیا حس غالب وو، چې د یاد احســاس د زیاتوالي له مخې به تا هر شـــی لومړی پېژندلو او د موجوداتو په پېژندلو کې به ته تر ټولو مخکې وې...

د ما شومتوب ورو ستی پړاو د هغه احسا ساتو مرحله وي چې موږ یې په واک کې لرو او د هغه احســاســاتو د تگلارې پیروي کوو، نو پردې پړاو کې به یا موږ د ړنا پیروي کوو چې له مخې یې ډېرې پوښتنې ځوابولی شو، او یا به چوپ پاتې کېږو، او پر دغه پوښتنو به ســترگې پټوو، د دې مثال د هغه اورگاډي په شــان دی، چې موږ یې چلوو او هغه سره له خپل زیات اوږدوالي زموږ په واک کې وي .

له همدې کبله خو ستا ماشومتوب ډېر په چټکۍ تېر شو؛ ځکه چې تا خپل وجود ډېر ژر احساس کړ او د ماشومتوب له مستیو سره دې ډېر ژر مخه ښه وکړه، څو کلونه نه وو تېر، چې لـــــه هر اړخه د جگړو، جنگونو او غصـب شـوې آزادۍ شـاهد شـوې، دلته ډېرې ویروونکې او کرغېړنې پېښــې واقع شــوې، لکه بندي کول، وهل، ټکول او د خلکو تر منځ وېره خپرول، هیڅ انســان دا جرئت نه درلود چې د ماښـام آذان څخه وروسـته له خپل کور څخه ووځي او یا په اوچت آواز خبرې وکړي؛ ځکه چې دیوالونو هم غوږونه درلودل، د دښمن د ځایي او راتلونکو عسکرو لپاره پرته له حسابه هر څه جایز وو چې زموږ د ځمکې د غصب لپاره یې ترسره کړي (۲) .

پر یادو پېښو پوهېدلو له تا څخه ستا د نورو ملگرو په شان زیات وخت ونه نیوه، بلکې تا ډېر وختي خپل سر پرې خلاص کړ، نور ماشـومان چې ترڅو د رشـد او پوهې سـن ته نه وي رسېدلي، پر داسې پېښو نه پوهیږي .

---

۲- موخه مې د ادلب ښار له آزادۍ مخکې وخت دی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

يادو پېښو چې له ځان سره ځومره ناخوالي درلودې، تا ټولې له دروندوالي او سختوالي سره په ښه ډول درک کړې، دا سې دردمنې او غمجنې پېښې چې د زړه پردې ځيري کوي او د سترګو ډنډ شوې او ښکې بهوي، خو تا هيڅکله دې ته وخت ورنه کړ چې دا ځيزونه ستا په فکر منفي اثر پريږدي .

محمد له کوچنيوالي څخه په زړه که له مجرمانو سره کينه درلوده، کله کله به يې په هغوی باندې د رد لپاره آواز پورته کاوه او ســختي به يې ورسره کوله، کله به يې چې په مخکې تېر شول، نو له غو سې څخه به يې په ډک نظر ورته کتل... په دا سې ډول چې ټول خلک به د ده د ما شومتوب له کبله ورته حيران وو، چې دا ما شوم د خپل کار هيڅ باک نه لري، همدا راز دومره جرئت له ده سره له کومه شـو، چې داسـې کړنه تر سره کړي، او ځينو خلکو به دده کار بې موخې او بې فايدې باله .

محمد به پر خپل موقف باندې نور هم کلکېده، بلکې د ټولنې او دښــمن له اړخه چې ځومره تهديدونه ورته متوجه وو، هيڅ باک يې پرې نه درلود، چې څه به يې غوښتل هغه به يې کول .

د ا شغالګرو پوځونو سره په هر ځل مخامخ کېدلو کې نوموړي دا سې وينا کوله چې د هغوی له ناوړه غبرګون سره به مخامخ کېده، تر دې چې بيا به کوم لاروي او يا د ټولنې کوم وګړي له دښمن څخه خلاصولو او له دې کار څخه به يې منع کاوه .

مګر هيڅکله په خپله لاره کې سست نه شو، ډېر ځله به يې په چيغو او فرياد کې ويل: ښنګه ستا سو په شان په غلې پاتې کېدلو باندې راضي شم، حال دا چې زما د ښمنان زما په ځمکه زما سره مخامخ کيږي او زه چوپ پاتې شم ؟

پر دا سې کړنو باندې به محمد خپله غو سه سړوله او د خپلې سينې اور به يې پرې مړ کاوه، او دا به يې ښکاره کوله چې د دغه ځمکو ازادي او د استقلال حس ته ځومره ګړندی دی .

پرته له دې چې پر همدې مهال د خپل کار ګټه او تاوان معلوم کړي..

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد د هغه لوبغاړي په شـان وو چې خپله هڅه، کوښښ او کار ورته اړين وي، نه نتيجه، داسې نتيجه چې خلک يې پردې راضي کړي تر څو له مبارزې څخه د پاتې شوو خلکو سره وروسته پاتې شي .

## د فراق لومړی شپه چې خلک يې يو له بل څخه لرې کړل

هجرت د سوريې د هر او سېدونکي لپاره حتمي تاکل شوې فيصله ده، چې له خپلې ځمکې يې هغه نظام وباسي د کوم په قاموس کې چې له وحشت پرته بل څه ځای نه لري .

محمد هم له خپلې کورنۍ سره د نورو کورنيو په څېر هجرت وکړ او خپل ښار يې پر داسي تکل پرېښود چې بل آرامه ښار ځان ته وگوري، موږ تر ډېره وخته پورې دا گمان نه کاوه چې دا به هم زموږ لپاره زموږ د خپلو ښارونو په شان شي .

له خپل وطن څخه لرې والی او د نوي ښار سره نابلدي سخته وي، د ژمي له داسې يخنۍ سره مخ کېدل چې د پوزې سر وسوځوي او په مړه جسم کې وينه کنگل کړي؛ ځکه چې جسماً انسان په يو ځای او روحاً په بل ځای کې وي، بلکې داسې يو حالت چې هر مهاجر له مرگ سره خپله پنجه نرموي ...

نوی ښار، نابلده خلک، يو بل ژوند... موږ مجبور وو چې له نوې ټولنې سره ځانونه روږدي کړو...

محمد په ترکيه کې د قرآن کريم د زده کړې حلقو ته تگ پيل کړ او دا ورته اړينه وه ترڅو پر داسې څه ځان بوخت کړي چې پر راتلونکې کې فايده ترې واخلي او د سبا د بدلونونو لپاره آماده شي، هغه په ترکيه کې طبيعي ژوند کاوه .

دولتونه زموږ له حال ناخبره او ويده وو او خپلو حاکمانو موږ وژلو، زموږ وينې هيڅ ارزښت او قيمت نه درلود، د خلکو روح اخيستل بيخي عادي گرځېدلي وو، آلوتکو په دوامدار ډول پر موږ خپلې دورې وهلې او په مکرر ډول يې موږ بمبارولو، دا هر څه هره ورځ پېښېدل موږ ته بيخي طبيعي شوي وو...

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بله اړخه بې کاري د دې لامل کېږي چې انسـان یا په بېهوده کار کې مصروف شي او یا په دوامداره دردونو مبتلا شي .

محمد په مسجد کې لمونځ کول پیل کړل او له هغه وروسته یې له یو شیخ سره د قرآن کریم حفظ شروع کړ .

وخت تیرېدو تر دې چې له شـیخ سره یې د خپل زړه راز شریک کړ او د خپل پلار د لیدلو له شوق څخه یې خبر کړ .

پلار شکمن شو او دغه ناڅاپي زیارت په تشویش کې واچاوه، مګر هغه وخت آرامه شـو، چې کله شـیخ د محمد په اړه څو رازونه ورسره شریک کړل، هغه (شـیخ) له محمد څخه خوښ وو او د محمد د راتلونکي په اړه یې د محمد پلار ته یو څو خبرې وکړې او دا یې ورته غوره وبلله چې د غازي عینتاب په معهد کې یې شـامل کړي، تر څو د قرآن کریم د حفظ تر څنګ نور شرعي علوم هم زده کړي .

دغه وخت معهد تړلی (رخصـت) وو، نو محمد د قرآن کریم حفظ پر دریو میاشـتو کې داسې مهال بشـپړ کړ، چې عمر یې څوارلس کلونو ته نیږدې وو، نو د فضـیلت تاج او پټکی د مسلمانانو علماوو د ټولنې لخوا هغه وخت ور په سر شو، چې دی تر ټولو کوچنی د الله تعالی د کتاب حافظ وو .

پاکي ده الله ﷻ لره.. څرنګه د یو چا روزنه له خپلې چینې (قرآن کریم) څخه ددې لپاره کوي، ترڅو په داسې ډول د هغه شان اوچت کړي چې نه مورڼ پرې پوهیږو او نه پورته کېدونکی پرې پوهیږي، تر دې چې یو ځوان د الله ﷻ پیروي پیل کړي او د یو لوی کار لپاره آماده شي، د دې کار پر لاره کې شپه او ورځ زیار وباسي.. تر هغه پورې چې له خپل رب سره مخامخ شي په دا سې حال کې چې د ستاینې وړ ګرځېدلی وي او ښایسته خاتمه یې په برخه شوې وي .

❁❁❁❁

یقیناً الله ﷻ هغه کسـان د خپل کلام د حفظ او د هغه په ماناوو کې د سـوچ لپاره غوره کړي او هغوی ته یې د داود ؑ په څېر طلایي حنجرې ورکړې، چې هغوی قرآن کریم په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکلي غږ سره لولي او ملايکې يې پر چاپيريال ګيره اچوي، هغوی نه د شپې په اوږدو کې ويده کېږي او نه د ورځې آرام کوي، حتی چې قيلوله ( د غرمې سنت خوب) هم نه کوي .

دا (قرآن کريم) يو لوی امانت دی، داســې امانت چې ځمکې او غرونو يې له پورته کولو څخه انکار وکړ او له پورته کولو څخه يې وډار شــول، مګر زړه له خپل نرموالي سره څنګه دومره اوچت کار وکړ؟

که غمجن يې ولولي غم يې له منځه ځي، که دردمن يې ولولي نو درد ته يې دوا کېږي، کوم خبرونه چې پکې دي هغه د زخمي زړه لپاره ټکور، د اوښــکو پاکوونکی او د آهونو بندوونکی دی..

محمد د چا ديدګاه او نمايش ته نه متوجه کېده، د ســوريې پر اوســېدونکو باندې د راغليو تکليفونو له کبله يې زړه ډېر نرم شــوی وو، سره له دې چې دی کم عمره وو، خو ســوريې ته به تللو او خپلې ګټلې پيســې به يې پرته له دې چې کورنی يې پرې خبره شي، هلته مصرفولې؛ ځکه که کورنی يې پرې پوهه شوې وای نو سوريې ته له تګ څخه به يې منع کړی وای .

او د يو انقلابي ځوان لپاره دا څنګه ممکنه ده، چې يواځې خارنه وکړي، بلکې د زخميانو، شهيدانو، ورانيو، ويجاړيو او د قوي دولتونو چوپتيا د هغه (محمد) احساس ورځ تر بلې کلکاوه .

هغه (محمد) تېښــته د حل لاره نه بلله، بلکې سره له ســختيو له دښــمن سره يې مخامخ کېدل خوښول او دا هغه څه وو چې ده ترسره کړل....

د معمول په څېر يې د حقيقي لرېوالي شربت غړپ غړپ وڅښه، حال دا چې مهرباني يې څو چنده وه چې هغه نه پرې پوهېده؛ ځکه چې د هرې جدايي احتمال کېدای شو خو د کورنی څخه د جدايي احتمال نه وو...

هغه د راحت او آرامی پر ځای د تکليف او مصــيبت لاره غوره کړه او يواځې پرې ولاړ .

ګويا چې هغه د دې کمزوري او ســتړي ملت لپاره اســتازی وو، تر څو د دوی قضــيه اوچته کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د عمر په لحاظ کوچنی او په عقل کې لوی وو، د دې لپاره چې د دغه ناهیلي ملت هر څه په خپل عقل کې را ګیر کړي، هیڅ څیز به دی دومره چټک په حرکت نه راوستلو، لکه د زخمي سینو فریاد او د مظلومانو اوښکو، کله به چې ورغی نو ویل به یې: زه له تاسو څخه یم او تاسو ښه درک کوم، زما آواز به تر هغه چوپ نشـــي تر څو ستاسو د مرستې سبب نه وي ګرځېدلی، ټوله نړۍ دې پردې ګواه اوسي، چې ناخوالې به نه پېښیږي، قتلونه به نه کېږي او مسلمانان به وروسته نه پاتې کېږي مګر هغه وخت چې موږ نه وو ...

هغه (محمد) له خپلې نیا سره اوسـېدلو، د هغه اړتیاوې او ضرورتونه به یې پوره کول او په ځینې کارونو کې به یې ترې مشوره اخیسته .

نیا یې له مجاهدینو سره د یوځای کېدلو اجازه ورکړه، د نیکی زیری یې پرې وکړ او دې کار (جهاد) ته یې وهڅولو ...

هماغه وو، چې محمد خپل قدمونه د لومړي ځل لپاره د جهاد پر لاره کې کېښـــودل، هغه لاره چې په دنیا کې له تکلیفونو ډکه او په آخرت کې روښنایي ده .

دغه وخت د عثمان عمر پنځه لس کاله وو..

په جهاد سره خپل عمر ښایسته کړه، چې له جهاد څخه وروسته پر باطلو لارو هیڅ تلل نشته، دا هغه عمر وو چې محمد خپل ځان د دې سوال د ځواب لپاره پکې آماده کړ، چې عمر مې درکړی وو، په څه کې دې تېر کړ؟

دا هغه عمر دی چې څوک له خبرې کولو عاجز وي، ښه په فصاحت سره خبرې پرې کولی شي، پر چا چې ظلم شـــوی وي، هغه د ځان دفاع پرې کولی شي، د هغه چا لپاره د اوښکو تویولو سبب دی چې د چا سترګو د غم پر وخت خیانت ورسره کړی وي (اوښکې یې نه وي تویې شوې) او دا هغه وریځ ده کله چې د باران ورېدلو وروسته راپیدا شي .

محمد د ډېرو جنګونو په لومړیو کرښو کې وجنګید.. تر دې چې څو ځله زخمي شو، لکه د کفرزیتا حصـرایا په جنګ کې په ۲۰۱۹ م کال کې، هغه د زخم او درد پروا نه لرله او نه د یرغل پر وخت راوروسته کېدو ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې يو څوک د څه شي په لټه کې شي نو د هغه د پيدايښت لپاره هر څه ته چمتو کېږي، که تاسـو ورسره يوځاى شـی له هغه سره به له درد څخه ډک عذاب ووينی، او درد که هر څومره سختېږي، خو له خپل ځان سره شفقت پټ ساتي .

له رسنيو او د حقيقت له خپرولو مخکې به هغه له يو جنګ څخه نه وو خلاص شوی، چې بل به يې پيل کړ، تر دې چې د جهاد په ډېرو ډګرونو کې يې ونډه واخيسته .

محمد به په نيک عمل کې سستي نه کوله، ماته به يې هميشه الله ﷻ را يادولو او د هغه په د احکامو په اطاعت او پيروی ته به يې تشويق کولم .

هره ورځ به يې په ښـه او اوچت آواز سره د قرآن پاک آيتونه لوسـتل، چې پر دې سره به په ټول کور او زموږ په نفسونو کې ډاډ او اطمينان خورېدو .

هغه د قرآن کريم له حفظ سربېره د هغه د آيتونو شـمېرې او د پاڼو شـمېرې هم ياد کړې وې .

د محمد ادب او د مخ ښېي د هغه له ظاهري جوړښت سره ورته او برابرې وې، هر چا به چې وليد، نو د ټول عمر لپاره د پند، نصيحت او عبرت لپاره ورته کافي وو .

چوپتيا يې هم ماته يو څه راښودل؛ ځکه چې ځينې وخت چوپوالی هم په ډېرو داسې څيزونو دلالت کوي، چې توري يې نه شي تعبيرولای .

د محمد خبرې او چوپتيا دواړه يو پند او نصـيحت وو، بلکې هر څيز ته د ده وړاندې کېدل يو ډول پند او نصـيحت وو، چې تا به ورته وکتل نو د هغه په واسـطه به دې د خپلې لارې مشالونه موندل او يوې غوره لارې ته به يې ستا لارښونه کوله .

هيڅچا ته يې د بدو خوب بېرته په بدو نه ورکاوه، خو کله به چې د الله ﷻ حدود د چا لخوا مات شول نو بيا يې د الله ﷻ لپاره انتقام اخيسته.. کله چې به ورته په کمه سترګه وکتل شول، نو د ناڅاپي خپګان نښې به يې په سترګو کې معلومې شوې او وبه يې ويل: هيڅکله داســې نه ده زما سره زما پالونکی دی، له هيچا څخه د خپل ځان او نفس له کبله انتقام نه اخلم ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ماته هرڅه وښـودل، د ژوند پر مختلفو اړخونو کې مې له محمد څخه زده کړه ترلاسه کړه، هغه ژوند چې هرچېرې وغواړې، لیږدوي مو، او موږ دا پرو سه بیا بیا تکرارو، تر هغه پورې چې د روح بانډونه او واګي مخکې له تیښتې او بدلېدلو ونیول شي .

محمد ته توبه ډېره خوښه وه، لکه څرنګه چې الله ﷻ توبه کوونکي خوښوي .

د هجرت پر مهال به یې چې کله له خپلې کورنۍ سره خپل شـوق وریه یاد شـو، نو د هجرت او فراق ثواب به یې غوښـت، صـبر به یې کاوه او ویل به یې: ما دا مبارکه ځمکه د خپل نفسـ ـي غوښـتنې له کبله نه ده پرېښـې، بلکې زه به هلته له خپل تقدیر سره برابر اوسېدلی وای... ځکه چې زه هلته زیږېدلی یم او هلته به وفات کېږم .

هغه خپله خبره ریښـتیني کړه، هغه ګټه وکړه، ځکه هغه پر دغه مبارکه خاوره کې وزیږېد، هلته یې ژوند وکړ او هماڵته شهید شو .

بیا که د ده او ده ته تر ټولو د نیږدې کس خبره شي، نو هغه د محمد په زړه کې ځانګړی ځای درلود... هغه ته یې دا خبره او وصـیت کړی وو چې تر ټولو اوچته هیله یې دا ده چې له مرګ وروسته په ادلب ښار کې د شهید ابوعبیده [۳] د قبر تر څنګ خاورو ته وسپارل شي .

ملګري یې د محمد له شـهادت وروسـته دا خبره د دې لپاره څرګنده کړه ترڅو د هغه مراد پوره کړي او همداسې وشول، د شهید ابوعبیده د قبر تر څنګ یو ځای همداسې پاتې وو، ګویا چې د محمد لپاره پرېښودل شوی وي .

---

[۳]-ابوعبیده: خپل نوم یې ابراهیم محمد رحمون دی، د ادلب ښـار اړوند په کنصـفره سـیمه کې په ۱۹۹۰/۱/۱ م کال کې زیږېدلی، په همدې کلي کې یې په ۲۰۰۷م کال کې خپلې ثانوي زده کړې پای ته رسـولې، په ۲۰۰۸م کال کې حربي پوهنتون ته شامل شو، په ۲۰۱۱م کال کې چې په سوریه کې د ظالم رژیم خلاف پاڅون پیل شو، نو ابوعبیده هم د خپلې سپیڅلې عقیدې او کروړلي ایمان له مخې له دې پاڅون کوونکو سره یوځای شو، پر ډېرو ځایونو کې یې زیات جهادي فعالیتونه تر سره کړل، چې پر دې مسیر کې یې زندان او څو ځله په خپل نازک او ګلورین وجود زخمونه وګالل، پر تحریر الشـام او جبهة النصرة جهادي غورځنګونو کې یې مختلفې لوړې او ټیټې دندې او خدمتونه تر سره کړل، چې بالآخره په ۲۰۲۰/۲/۲۷ م کال کې د شهادت لوړ مقام ته ورسېد، نحسبه کذلک والله حسیبه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د وخت طوفانونو هغه کمزوری نه کړ

د ژوند له ترخو خاطراتو ډکې ورځې، د فراق په اور سوځېدلې له اوښکو ډکې سترګې، د آرام او راحت پرېښـودل، ځان په قوت سـمبالول؛ دا هر څه د يو خوب د رښـتيا کولو په تکل، محمد له رســنيو سره يو ځای شــو، د دې لپاره چې د جنګي کړيو او کرښــو تول خبرونه تر پو ښبنې لاندې راولي او پوځي پېښې د لاذقيه له شمالي برخې څخه تر ادلب او د حلب تر لويديځو سيمو پورې نقل کړي .

محمد به د مجاهدينو له استشـهادي بريدونو سره يو ځای سيمې ته داخليدو، له ټولو خطرونو سره يې د مجاهدينو کړنې په ريښتيني ډول انځورولې، په ښارونو، کليو او بې وزله وګړو باندې د وحشي بمباريو په ښکاره کولو کې يې هيڅ کوتاهي نه کوله .

هڅه يې کوله چې ټولو خلکو ته حقيقت څرګند کړي .

د سوريې په شمالي برخه باندې په ورو ستۍ فوځي حمله کې محمد خپلې ورو ستۍ هلې ځلې وکړې، هغه مجاهدينو ته نيږدې او باوري کس وو .

په مخکنيو ټپونو سربيره د خبريالی پر مهال هم څو ځله ټپي شــو، خو د خپل اوچت رسـالت له حق ادا کولو څخه په شـا نه شـو، او نه د نورو له مرسـتې، خواخوږۍ او کومک څخه وروسته شو .

په رسنيز ډګر کې د محمد لومړی ملاقات له فوځي مشــر، د مبارک انقلاب له ځلانده ستوري او زړور قومندان ابوعبيدة سره شوی وو .

هغه به ابوعبيدة د خپلې لارې لارښــود باله او زياته مينه يې ورسره درلوده، همدا راز ابوعبيدة هم له محمد سره د هغه د ځيرکتيا، مهارت او زياتې قربــــانی له کبله زياته مينه درلودله، په دغه ملاقات کې ابوعبيده د محمد زيات توصيف بيان کړ .

هغوی د غم، موخې، هدف، اوږد مزل، ســپيڅلي احســاس د يووالي له کبله يو له بل سره تړل شوي وو .

محمد د ابوعبيدة پر پل ولاړ... او له هغه څخه څلور کاله وروسته شهيد شو [٤] .

ګويا چې د محمد شهادت د شهيد له شهيد سره يوځای کېدل دي .

---

٤- ابوعبيدة تقبله الله په ٢٠٢٠/٢/٢٧ م کال کې شهيد شو او محمد تقبله الله په ٢٠٢٣/١٠/٢٨ م کال کې شهيد شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی به له یو بل سره په ملاقاتونو کې پر داسې موضـوعاتو خبرې کولې چې د ټولو لپاره به مهمې وې؛ محمد به وخت ناوخت په معسکراتو او تمرین ځایونو کې په مجاهدینو گرځېده، هغوی به یې د ظالم رژیم سره د مبارزې په پار پارول، ډاډ به یې ورکاوه، هغه به ځان داســې ورته جوړ کړ، گویا د ســختۍ پر وخت تکیه گاه ده چې د مجاهدینو غمونه پورته کوي، او پیتې یې سپکوي .

د محمد دا وینا ډېره مشهوره ده:

« إنّ من أعظم الأعمال عند الله أن يجودَ الإنسان بنفسه وجسده وروحه فداءً للإسلام وأهله » .

« د الله ﷻ په نزد تر ټولو اوچت عمل دا دی چې انسـان د اسـلام او مسـلمانانو لپاره د ځان، روح او جسد قرباني ورکړي » .

هغه خپل ژوند یواځې تر امیدونو او آرزوگانو پورې نه تړلو... بلکې پر دې یې باور درلود چې خپلو هیلو ته رسېدل په عمل سره کېږي، نه په وینا سره او الله ﷻ له موږ څخه د هڅې او کوښښ پوښتنه کوي، نه د نتیجې...

د حق له لارې او مسیر څخه په شـا نه شـو، بلکې پر هغې مسـتقیم پاتې شـو، او نه یې خپل اوچت اخلاق پرېښـودل، تا به ویل چې  د گلانو غونچه ده چې د ژمي له سـختیو سره وغوړېږي او خپل شاوخوا خوشبویه کړي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ته هر ځای نیکمرغه وې

محمد ډېر بل ډول انســـان وو، لکه په خاورو کې پټ د تخم دانه، چې هر څومره یې ژوره خښه کړې، پر همغه اندازه به په هغه کې د مختلفو میوو وده او ژوندون ووینې، داسې چې خړوبېدل یې له یو ډول اوبو څخه وي خو په خوند او خوراک کې له یو بل څخه بدل وي… د محمد سیرابه کېدل او خړوبېدل له قرآن کریم او نبوي سنتو څخه وو…

هغه ته په هر ځل کتلو کې ما یو نوی څیز موندلو، کوم چې مخکې به پرې پوهه نه وم… تر دې چې له شهادت وروسته یې ماته د خلکو لخوا داسې خبرې راورسېدې چې زما د حیرانتیا سبب شوې، چې زه د لومړي ځل لپاره پرې پوهیږم …

اوس، وروســته له هغې چې د هغه قیمتي روح والوت او له خلکو سره یې اړیکې پرې شوې، خلکو د هغه له جواهرو او مهارتونو څخه پرده پورته کړه او ویې ویل: هغه داسې او داسې وو، لکه د سرطان پر ناروغۍ اخته یوې ناروغې ښځې وویل: د هرې میا شتې په سر کې یې ماته په ډېر تکلیف سره دوا رالیږله ..

نور پټ رازونه به یې الله ﷻ ته معلوم وي، خو هغه ســوکالي چې ما پر خپل ژوند کې ترې ولیده، د حیرانتیا وړ ده ..

له اوبو ډکه وریځ وه چې باران ترې ورېدو، او پر موږ باندې به بیا دوچند ورېدو ..

محمد به خپل ټول کار الله ﷻ ته سپاره، د الله ﷻ له مرستې او کومک څخه پرته یې په خپل توان او قوت باور نه درلود، الله ﷻ ته به یې پر اســتخارې سره رجوع کوله، خپل ځان به یې پرې مضبوطاوه او پر هغه به یې باور او یقین درلود .

ځینې وخت به یې داســې دعا غوښــتله: « اللهم اجعلنی ممن ألقیت علیهم محبتک فجعلت لهم قبولاً فی الأرض ومحبّة فی السماء » .

یعنې: یا الله ﷻ ! ما له هغه خلکو څخه وګرځوه چې تا خپله مینه ورکړې، هغوی ته دې په ځمکه کې قبولتیا او په آسمان کې محبت ورکړی .

یقیناً چې الله ﷻ د هغه دعا قبوله کړه، هغه ته یې په ژوند کې او له مرګ وروســته هغه څه ورکړل، کوم څه چې ده غوښتل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چې ترڅو ژوندی وو، خوله یې له ښایسته خندا ډکه وه، هر نابلده انسان به چې ولید، د مینې احساس به یې پکې مونده او محبت به یې ورسره زیاتېدو، تر دې چې غوښتل به یې، تر څو ترې جلا نه شي .

په محمد باندې د الله ﷻ له لویو پیرزوینو څخه یوه دا وه چې د خلکو په زړونو کې یې له ده سره محبت کول اچولي وو .

هغه د وفا په مانا ښه پوهېدو، ددې لپاره چې له ده سره خلک محبت وکړي، د ټولو په خوښیو به خوښمن وو او خپله خوشالي به یې ورسره شریکوله، د هغوی د غم پر وخت به غمجن وو، او کله به چې پر خلکو سختې ورځې راغلې نو ده به یې د خپګان پیتې ورسپکول .

هغه به ورکړه کوله، خو له چا به یې څه شی نه اخیستلو، د خپلو ګاونډیانو د آرامۍ لپاره هڅاند وو، دا هلې ځلې به یې کولې چې هغوی له تنګسیا څخه پراختیا ته راوباسي، کله به چې ور وغوښتل شو، ورتلو به، کله به چې آواز ورته وشو نو ځواب به یې ورکاوه او کله به چې چا اړتیا ورته پیدا کړه نو ځان به یې ور رساوه .

هغه د پراخه سینې څښتن وو او پر مصیبت باندې یې د صبر لپاره ساه ډېره اوږده وه .

له هر څیز سره به په ښه فکر او با تدبیره سوچ سره مخ کېده .

ژوند یې له خپلو کړنو څخه په خوښۍ او رضا ولاړ وو، توجه یې ټوله خپلو هڅو، هلو ځلو ته وه، د نتیجې یې پروا نه ساتله او نه یې سوچ ورته کولو... هغه پر دې باور درلود چې کله یو کار ترسره شي له هغه وروسته باید سوچ پکې ونه شي بلکې د ژوند تدبیروونکي ذات ته له تشویش پرته پرېښودل شي .

کوم څیز چې الله ﷻ یې جوړول وغواړي، هغه بدلیږي نه، او د کوم څیز چې بدلون وغواړي هغه رغیږي نه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## هغه وخت چې د څوارلسم سپوږمۍ پکې ډوب شوه

همیشه موږ ناآشنا څیزونه حس کوو، چې د هغه ښکاره او پټه څه ښنه نه لیدل کېږي، موږ ته له سبب پرته اندیښنه پیدا کېږي، د ژړا کولو شوق راځي، زړه مو نیولی غونډې وي؛ مگر بیا هم د دې څه باک نه لرو، او نه پر خپل گمان باوري وو، مگر دا چې زموږ له گمان سره برابر یو څه پېښ شي، گویا چې د انسان زړه هغه ته وایي: ته خبر نه یې؟

زه به په خپل ژوند کې اوس د ســختې ورځې خبره وکړم، هغه ورځ چې محمد پکې شــهید شــو، هغه د پنجشــنبې ورځ وه، هغه ورځ چې د پېړیو پر تېرېدلو سره به له یاده ونه وځي...

محمد ســهار مهال له خوبه رابیدار شــو، قرآن کریم یې ولوســت، له هغه وروســته دوه ساعته ویده شو، له معمول سره سم مې د قهوې څښلو لپاره راویښ کړ...

وروســته هغه ظالم رژیم د ادلب پر ښــار بمباري شروع کړه، محمد د باندې ووت، کله چې بمباري ډېره شوه نو بېرته کور ته را غی .

له غمه ډکه ورځ وه... زه نه پوهېدم، په محمد کې مې د مرگ بوی حس کاوه، له حســـــرت او افســوس څخه مې په ډک نظر ورته کتل، پرته له دې چې څه ووایم، چیغو، آهونو او فریادونو مې دماغ دومره گډوډ کړی وو چې تر پوزې پورې یې رسولې وم .

احلام او بتول (٥) ټوله ورځ بې خاره ژړل، خو له دې سره محمد هیڅ تشویش ونه کړ، نه یې چیغې پرې ووهلې او نه یې غوسه پرې وکړه .

د مازدیگر پر مهال کیناســت، ترڅو د ثانوي دورې د فراغت لپاره درس ولولي، زیات درس یې ولوســـت تر دې چې ما ورته وویل: بس دی نور، لږ پر ځان زړه وســـوځوه، هغه وویل: باید چې د تېرو شوو درسونو قضایي راوگرځوم .

بتول دا مهال د مور له تیونو (شــیدو) څخه نه وه بېله، محمد هغه ته د درس له میز سره یوه پاڼه او یو قلم ورکړل، تر څو لوبې پرې وکړي او ژړا یې ودرېږي .

---

٥- محمد ته الله ﷻ دوه لورگانې ورکړې وې، چې مشره یې د دریو کلونو په عمر احلام نومېده، او دوهمه یې بتول نومېده چې د یو کال په عمر وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوره چوپتیا خپره وه، چې دا چوپتیا د بتول او احلام له ژړاوو پرته پر بل څه نه ماتېدله، محمد خپل درس لوست او ما يې د مخ کرښو ته په سوچ کې کتل، هغه کرښې چې د يوې لحظې لپاره مې له خپلو سترګو څخه د هغه د غيابت فکر نه کاوه .

د لمر له ډوبېدو او د آذان د انګازو پر مهال په ما داسې حس غالب شو چې تا به ويل، چې څوک مې د يوې تياره کندې او ګرداب خواته بوځي چې ماته يې بېخ نه معلوميږي... ما ورته وويل: زه د سختې تنګسيا، خفګان او زړه بدوالي احساس کوم چې هيڅ مې نه پرېږدي، نه پوهېږم چې دا ناڅاپه حس او سخته تياره له کوم ځای څخه شوه چې په هر ځای خوره شوه...

محمد زما د آرامولو هڅه وکړه، کوښښ يې وکړ چې ماته ډاډ راکړي او ما د نفس له بې ځايه وسوسو څخه وباسي ..

زموږ د نا ستې پر مهال محمد ټولنيزې رسنۍ پرانيستې چې په هغه کې د جنګ ځپلې غزې د وضعيت په اړه خبرې شوې وې، محمد خبرونه يو پر بل پسې وکتل، دی هيڅ شي دومره زيات نه خپه کولو، لکه څومره به چې د مظلومانو له کومک څخه خپلې بې وسۍ خپه کولو، وروستۍ هڅه يې همدا وه چې له هغوی سره د هغوی په وير کې ځان شريک کړي، خلک د هغوی د داعيې په اړه ښه پوه کړي او له هغوی سره ودرېږي .

همدا شيبه بيا د آلوتکو لخوا نوې بمباري پيل شوه ..

د بمبارۍ وېره او پريشاني ډېره ژر پای ته ورسېده، له ما څخه يې د کيلي ګانو پوښتنه وکړه؟ ما ورته وويل: نه پوهېږم، سره له دې چې زه پوهېدم، خو خپل د ويرې احساس چې زما په فکر کې وو، ډېر درد ورکوونکی وو، سره لدې چې زه يې د ندې ته له تګ سره عادت وم، د تګ او دندې لپاره به مې آماده کولو، خو دا ورځ له نورو ورځو څخه بيخي جدا وه، د هغه حرکتونه، سترګې، مخ او کور... ګويا چې زه يې د لومړي ځل لپاره ګورم، او تا به ويل، چې زما شاوخوا هر څه د بدلون په حال کې دي .

کيلي يې ومونده او د کور په دروازه کې ودرېد، خپل خبريال ملګري محمد جمال ته يې غځېز پيغام پرېښود، چې دی بمبار شوو ځايونو ته د تګ لپاره آماده دی . ما په ډکو سترګو ژړل او بې اختياره مې د ترمو اوښکو سيلاب پر مخ روان وو، ما ورته وويل: مه ځه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تېرو پنځه کلونو کې دا لومړی ځل وو چې ما دی له تګ څخه منع کاوه، ما ته يې پرته له دې چې څه وينا وکړي، وکتل ...

د بمونو آواز زياتېده او اوچتېدو... هغه زما د ژړا، کمزورۍ او بې وسۍ د لېدلو توان نه درلود .

هغه زما د دغه کار رد کولو ته حيران وو، ما ته چې اوس هم هغه وخت راپه ياد شي، نو دا پوښتنه راته راولاړيږي، چې تا دا کار څنګه وکړ؟ خو هغه څه چې ما هغه وخت وکړل، داسې وو تا به ويل چې زه له هرڅه خبره يم، خو محمد زما احساس رښتيا ونه ګاڼه .

ما وروسته له کور د باندې ځينې خوبونه وليدل، هغه ژړل، ګويا چې هغه خوب ويل: ما له خپلې مهربانۍ او شفقت څخه پرته پر دې دنيا کې يواځې مه پرېږده...

همدا د محمد وروستۍ خبره هم وه چې له ماسره يې په تليفوني اړيکه کې وکړه او دغه وخت دی لا ژوندی وو...

او دا وروستی ځل وو چې هغه ولاړ او بيا راونه ګرځېد .

سه شنبه د شپې ۱۲:۵۸ بجې

۲۰۲۳/۱۱/۲۱ م

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د محمد د ملګري (محمد جمال) بیان

(چا چې د پېښې تر ځای او له هغه وروسته یوه شیبه محمد یواځې نه وو پرېښی)

زه د محمد عثمان خواته ورغلم ترڅو زما سره د ادلب ښـــار ته ولاړ شي او هلته د بمبارۍ خبرونه نقل کړي، دغه وخت ۲۰۲۳/۱۰/۲۶م ، کال د ماښام ۲۲:۸ بجې وې .

زما خبریال ملګري محمد عثمان له ما سره اړیکه ونیوله او زه یې په بیړې سره وغوښتم، ترڅو په موټر کې ورشـــم او راته ویې ویل: د اســـد د فوځیانو لخوا د ادلب ښـــار هدف ګرځول شوی .

زه ورغلم، هغه ماته د خپل کور لاندې منتظر وو، په موټر کې زما په خوا کې کینا ست، د ښار بمبار شوي ځای ته روان شوو، لومړی ځای چې خپل رسنیز راپور مو پرې جوړاوه، هغه د کارلټون ســـیمه وه، زموږ د راپور جوړولو په جریان کې زموږ تر څنګ یو بم ولګېد، او محمد په پښه کې په سطحي ډول زخمي شو، په دغه وخت کې یې له خندا څخه په ډکه خوله وویل: موږ به ډېر ژر شهیدان شو..

زه اوس د هغه رښـتیا وینا ته ډېر حیران شـم، خو ما د ده پردې خبرې څه باک رانه ووړ، بلکې ورته ومې ویل: ســـمه ده نو راځه چې له یو بل سره خدای پاماني وکړو او غاړه مې ورکړه.. دا عجیبه شیبه وه، تا به ویل چې همدا لحظه ده او نور هیڅ شی نشته .

بیا مو یو بل ځای ته مخه کړه، تر څو د بمبارۍ راپور پرې جوړ کړو، خو هغه ځای د ظالمانو لخوا هدف وګرځېد، په کوم ځای کې چې موږ وو، محمد ماته وویل: د ا سد ظالم رژیم موږ مستقیماً هدف ګرځولي یو، راځه چې بېرته خپلو کورونو ته وګرځو، زه د لومړي ځل لپاره په خپله کورنۍ وویرېدم ..

موږ د محمد د کور په طرف وخوځېدو، چې په دې وخت کې د ځارخونو لخوا د یوې ټپي میرمنې په اړه اعلان وشـــو، چې په بمباریو کې ټپي شـــوې، او امبولانس ته اړتیا لري... محمد ماته وویل: چې باید د امبولانس غم ورته وخورو .

کله چې موږ د هغه میرمنې ځای ته ورســـېدو، د ظالمانو لخوا همدا ځای مو خه وګرځول شو، زه هم زخمي شوم، زه په امبولانس کې شفاخانې ته وړل شوی وم، هلته ماته

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر راکړل شـو، چې زما ملگری محمد عثمان هم زخمي شـوی او بلې شـفاخانې ته انتقال شوی .

ما خپل ځان تر هغه پورې نه شـوی صـبرولای، تر څو مې چې هغه لیدلی نه وای او له ژوند څخه مې یې ډاډ نه وای تر لاسه کړی... مگر دې حالت (زما ناخبرتیا) زیات دوام ونه کړ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**وداعاً، لم تمت إلا لتحيا      وقلبك لم يزل فينا يدقّ**

**إذا الدنيا بكته بكلّ عينٍ      فجنّات النعيم به أحقّ**

**حذيفة العرجي**

ژباړه: « د خدای په امان، ته د دې لپاره مړ شــوې، چې بیا راژوندی شــې . خو زړه دې زموږ تر منځ همېشه په حرکت دی (ته زموږ تر منځ ژوندی یې ) .

( که مړ شـوې ) نو په دې وخت به ټوله دنیا په دواړو سـترګو درپسـې وژاړي . او له نعمتونو ډک جنتونه به ( ستا ) د ورتللو زیات حقدار وي » .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د محمد د جنازې پر مهال

کله چې الله ﷻ ته کوم بنده خوښ شي، نو په ځمکه او آ سمان کې قبولیت ورکوي...

دا جمله به مې یوه شیبه له ذهن څخه نه وځې، کله چې محمد په شفاخانه کې تر درملنې لاندې وو، ما ډلې ډلې خلک لیدل چې د ده شاوخوا ته راټول وو، او د شفاخانې ساحه د یوې ثانیې لپاره نه ده خوشې شوې .

لویه ډله خلک راغلل، زیاتې دعاګانې یې په اړه د آسمان په لور پورته شوې، خو خیر په هغه څه کې وو، کوم چې الله ﷻ غوښتل .

د شـهادت خبر یې سراسر درد وو، چې ټول خلک یې په غم، جدایی، آهونو او فریاد سره راټول کړل، دا چې ژوند یې ډېر ناآشـــنا او عجیب وو، د شـــهادت پېښــه یې هم ډېره عجیبه وه .

د الوتکو دورې او بمبارې روانه وه، خلکو محمد د خښـــولو لپاره هغه ځای ته یووړ چې ده یې وصیت کړی وو، تر څو یې د ابوعبیده تر څنګ خاورو ته وسپاري .

د محمد له شـهادت وروسـته ډېرو پوهانو هڅه کړې چې د هغه د عدالت، انصـاف او نورو صـــفاتو په اړه د خپلو قلمونو څوکې وڅرخوي، سره لدې چې هیڅ ژبه د ده وړتیاوې نه شي بیانولی، خو زه دلته ځینې هغه لیکنې راوړم، چې د محمد په اړه په ټولنیزو رسنیو کې خپرې شوې:

په ابوبکر (٦) دې ټول وژاړي....

ما خپل ګران ورور محمد څو ځله لیدلی، خو قسم په الله! چې ما له ده څخه د جهاد، مجاهدینو مینې، د دین او اسلامي امت له مرستې پرته بل څه نه دي زده کړي .

هغه شپه او ورځ لګیا وو، نه سست شو او نه وروسته شو، نه یې خوب درلود او نه یې خوب کول غوښتل، هغه هیڅ ستوماني نه پېژندله، نه یې خپل کوښښ په اوړي کې سپماوه او نه یې سـتړیا پېژندله چې له کبله یې په ژمي کې جهاد پرېږدي، قرآن کریم یې حفظ کړ، له خپلو ورونو سره یې مینه درلوده، د حق وینا کولو لپاره یې زیات کوښښ کاوه، د اسلامي امت په سطحه یې کار کاوه .

---

٦- د محمد عثمان اسم کنیة ابوبکر وو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

گرانه wروره موږ ستا په فراق سخت دردمن شوو؛ لاکن کوم څه چې زموږ د تسلی سبب ګرځي، هغه ستا د شهادت مرګ دی نه د بسترې، ستا د مجاهد مرګ دی، نه له جهاد څخه د ناست کس، ستا له دښمن سره د مخامخ کېدلو مرګ دی، نه د وروسته کېدونکي، ستا د صابر او د الله ﷻ د ثواب امید لرونکي مرګ دی، نن ورځ څوک د ابوبکر په شان دي ؟

آه آه! زموږ زړونه دې مات کړل، ستا ورته ته سلام، الله ﷻ دې اجر درکړي ای ابوبکره!

| | |
|---|---|
| وما يكون مثل أخي ولكن | أعزي النفس عنه بالتأسـي |
| فلا والله لا أنساک حتـى | أفارق مهجتي ويشق رمسي |

ژباړه: زما د ورور په شان ژړا يې نه ده کړې، بلکې خپل ځان ته يې د هغه له غم څخه تسلي ورکړې .

قسم په الله چې تا به تر هغه هېر نه کړم، تر څو چې مې له وجود وينې نه وي توی شوې (نه وم شهيد شوی) او قبر مې د خښولو لپاره نه وي کيندل شوی .

وروره! خوښي ده تالره! مبارک دې شه! ته خپلو هیلو ته ورسېدې: ﴿ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ طُوبَىٰ لَهُمْ وَحُسْنُ مَآبٍ ﴾ [ الرعد، آیت: ۲۹ ] .

ژباړه: هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نيک عمل کوي، هغوی لره خوشالي او غوره ځای (جنت) دی .

## شريح الحمصي

د شهيد خبريال محمد عثمان تقبله الله کورنۍ ته زموږ د تسليت پيغام

هغه يو خوش طبيعته ځوان او د مهربانه زړه خاوند وو، زما پسې يې په روژه کې لمونځ کاوه، په لمانځه کې يې ما له ژړا ډکې سلګۍ آورېدې... هغه به هميشه د جګړو ګرمو سنګرونو او معسکراتو ته د تګ لپاره حريص وو، ترڅو د مجاهدينو پيغام او د سوريې په شمال کې د آزادو شويو سيمو د خلکو پيغام تر نورو ټولو پورې ورسوي .

محمد ولاړ خو په څمکه کې يې اثر پاتې شو، هغه ته دې ا ستقامت او شهادت دواړه مبارک وي، موږ له الله ﷻ څخه قبوليت او ښنه ورته غواړو، يا الله! موږ له هغوی سره د نيکانو په ټولي کې کامياب يو ځای کړه، نه ناکام .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**مصلح العلياني**

شـــهید خبریال محمد عثمان... هغوی داســـې غلي او چوپ ولاړل، هغوی ولاړل خو زموږ نیمایي زړونه یې هم له ځانونو سره یوړل، هغوی هغه ځای ته ولاړل، کوم ته چې ښایسته او ښه خلک ځي، هغوی دا سې ځای ته ولاړل چې موږ ټول هلته له الله ﷻ څخه تلل غواړو، هغوی جنت ته ولاړل، هغه جنت چې پلنوالی یې د آســـمانونو او ټولې ځمکې برابر دی . مگر موږ، موږ ته منا سب دي چې د شهیدانو امانت ضایع نه کړو، بلکې ټینگ یې وســاتو، هغه امانت دا دی چې موږ د هغوی په لاره باندې ولاړ شــو، په کومه لاره چې دوی ستي او شهیدان شول .

**احمد زیدان**

وروسته ډېرو خیرخواه خلکو د ده لپاره عمرې وکړې، ځینو خیریه بنسټونو د ده په نوم د اوبو څاه ویست (ثواب یې محمد ته وباښه)، تر ټولو اوچت کار دا وو، چې د ده په نوم د یو مسجد بنسټ کېښودل شو، چې دا به د ده لپاره صدقه جاریه وي، په هغه کې به د قرآن کریم او نورو دیني علومو زده کړه ترسره کېږي .

که محمد شــهید شــو، نو ډېر ژر به زیات خلک میدان ته راووځي او د هغه مسیر به د خپلو ځانونو لپاره تگلوری وټاکي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د محمد له ويناوو څخه

من إدلب العزّ حتى غزّة الحرّة حر يـــــــورِّث حرًا بعده ثأرًا
هذه الحياة ممرٌّ لا لنـــحيا بها إنّا نمـــوتُ لنحيا بعدها عُمرا
يا غزّةَ الشّامِ منكِ تطلُبُ العُذرا فالشّام تُكوى كما لو أنّها جمرَا
إنْ كــان ما يُرجى منّا لنصرتكم أنا وأنتـــم كِلانا نكتوي قهرا

ژباړه: « د ادلب له پاکې خاورې څخه تر آزادې غزې پورې، آزاد دي او له قربانۍ وروسته به خلکو ته آزادي پرېږدي، دا ژوند د پول او لارې په شان دی چې موږ د تل ژوند کولو لپاره پکې نه يو پيدا، موږ ددې لپاره مړه کېږو تر څو نور ژوند وکړي .
ای غزې! شـام ســتا پيغلتوب غواړي، خو شـام د غوښـې په شـان د اور په سـکروټو کبابيږي .
که له موږ څخه ستاسـو مرسـته وغوښـتل شي، نو زه او تاسـو ټول به په مظلوميت سره ستاسو لپاره ستي او کباب شو ».
موږ ســتا په انګړ کې د دې لپاره ګرځو چې خپل عهد نوی او د خپلو هيلو غوټۍ وسپړو، زموږ د ټولو ښـارونو د اوسـېدونکو تر منځ غاړه هسـکه ده، او هميشـه به سـوريه د انقلاب لپاره يوه نښــه، علامه او مثال وي، د ســوريې کانې، بوټې او ميوې د دې خبرې خبرداری ورکوي چې هغه به همېشــه په خپله وعده باقي پاتې شي، اشـغال به ختم کړي او غازيان به خپل مقاومت جاري وساتي .

حوراء أرضٍ فـــي الفؤاد شـــآمُ قدســــــــيّةٌ تأوي لها الأحـلامُ
يا قدسُ يا رمزَ البطولة والفـــدا إنّ التّشـــــــــوق بالقلوب غــرامُ
أسأل الهوى في بيـــت مقدسنا أما ظمئت إلى الفتح العظيم صيامُ
أين الملوك إذا بغزّةَ أُضرِمـــــت نار الوغــــــــــى وبنيّها أيتامُ
أين الجيوش ولو تكاثرت عدلها أم أنها جِيف بقـــــــت و عظامُ
أم أنّها باتت لقتل شعــــــوبها ضربٌ و سفــــــكٌ للدّماء حرامُ
يُسْقى بعزٍّ موتُنا وحتــــــوفنـا والمــــــوت شربٌ باردٌ وسلامُ
عبثاً تـــــحاول لا فناء لثائرِ هذي رســـــالة أمتي وختامُ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژباړه: شــام په ځمکه کې د زړونو ښــاپیرۍ ده، او قدس د خلکو لپاره د خوبونو لیدلو ځای دی .

ای قدسه! ای د ځوانۍ او قربانۍ ښښې، په زړونو کې له تاسره محبت نه بېلېدونکی څیز دی .

زه په بیت المقدس کې ســاه اخیســتل غواړم، او تا د دې لویې فتحې لپاره روژه نیولې چې له کبله یې تږی شوی یې .

چیرته دي هغه پاچاهان، کله چې په غزه د جګړو اور بل وي، او بچیان یې یتیمانیږي .

چیرې دي هغه لښــکرې، د کومو چې مثالونه ډېر دي، یا دا چې بې روحه جســدونه او هډوکي دي چې پاتې شوي .

یا خو دې لښکرو د خپل ولس وژنه پیل کړې، او په ناروا طریقه وهل او د وینو تویول کوي .

د غیرت مرگ او وژنه زموږ لپاره ښه دي او د شهادت مړینه زموږ لپاره د سلامتیا یخې اوبه دي .

ته هســې لګیا یې، قرباني ورکوونکي هیڅکله نه پناه کیږي، دا زما وروســتی پیغام دی ای زما امته!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د محمد د پلار وینا

الحمد لله رب العالمين وأفضـل الصـلاة و أتم التسـليم على سـيدنا محمد و على آله و أصحابه أجمعين .

﴿ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا﴾ [ احزاب، آیت: ۲۳ ] .

یعنې: « له مؤمنانو څخه ځینې سـړي دي چې هغوی هغه وعده رښـتیا کړه، د کومې لوظ یې چې له الله ﷻ سره کړی وو، نو ځینې هغه دي چې خپل حاجت یې پوره کړ او ځینې نور بیا منتظر دي، خو خپل لوظ یې هیڅ بدل نه کړ » .

موږ د خپل پالونکي له خوښـې پرته بل څه نه وایو، موږ ټول الله ﷻ لره یو او د هغه خواته ورستنېږو .

ماته دي دا عزت مبارک وي، چې زه په یو تکړه سړي چې د الله ﷻ لپاره یې د هیچا د ملامتیا پروا نه کوله، ونازول شـوم، او هغه د الله ﷻ د دین لپاره او د هغه په دفاع کې شـهید شو .

محمد علي عبد الباسط حاج ابراهیم

په څوارلس کلنۍ کې یې قرآن کریم حفظ او د الله ﷻ په لاره کې یې جهاد پیل کړ، په ډېرو جنګونو کې یې د یاغي بشار الاسد او د هغه د ملګرو په مقابل کې برخه واخیسته، او څو ځله ټپي شو .

د ادلب پر پاکه ځمکه په داسې حال کې په شهادت ورسېد، چې په عام ولس د بشار او د هغه د ظالم رژیم ظلمونه او بمباری یې نقل او تثبیتولې، د هغه په پاکو او سپیڅلو وینو باندې دا خاوره رنګ شوه .

الحمد لله، چې هغه د ځمکې د خلکو تر منځ زیات محبوبیت درلود او له الله ﷻ څخه غواړم چې د آسمانونو د مخلوق تر منځ یې هم همداسې محبوب وګرځوي .

په آخر کې د محمد له ملګرو او مجاهدینو څخه دا هیله لرم چې هغوی دې زما زوی په خپلو دعاګانو کې نه هېروي، او هغه لاره دې دوی تر خپل منزل پورې ورسوي، پر کومه چې زما زوی ولاړ، هغه داسې سوچه او پاکه لاره شاته پرېښوده چې هیڅ کوږوالی پکې نشته .

د شهید پلار: عبد الباسط حاج ابراهیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**أغرٌّ، أزهرُ، مثل البدر صورتُه      صافٍ، عتيقٌ، فما في وجهه ندبُ**

**الخنساء**

« د ځوارلسم سپوږمي په څېر د هغه شکل سپین او روښانه وو، داسې غوره او پاک وو چې په مخ کې یې هیڅ بدي او خرابي نه وه » .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د محمد له شهادت څخه وروسته

د الله ﷻ کارونه د حیرانتیا وړ نه دي، او نه دا خبره د هېرېدلو ده چې موږ بشـــر یو، او دا چې خامخا به یوه ورځ د محمد وخت په دنیا کې پوره کېده... مگر زه به له هغه ورو سته د ژوند کولو څنګه توان ولرم..

کله چې ماته د ده د شهادت خبر راورسېد، زما حالت د گل غوټۍ په شان آرامه وو، په دا سې ډول چې د وخت طوفان د دې گل پاڼې په زور سره چې څنګه یې خو ښه شي ترې وشـــکوي، او په گل کې داســـې څه پاتې نه شي چې د هغه په وسـیله دې بیا راوټوکېږي او زرغون دې شي ..

درسونه پای ته ورسېدل، پاڼې ټولې شوې، قلمونه وچ شول، اوس د تطبیق وخت شو، د داسې آزموینې وخت راغی چې مخکې له دې څخه ترې خبره نه وم .

دا جمله مخکې ما ډېره تکرار کړې چې صـبر د مصـیبت په لومړیو کې وي، خو اوس دا جمله زما د بدن په هر رگ کې گرځي او زما په زړه یې د صـــبر یخې اوبه پاشـــلې، ته به وایې چې ما هیڅ گرمي نه ده لیدلې، یا دا چې ما له غم سره تعهد کړی چې هیڅکله به ترې نه بیلېږم، او جسم مې د مصیبت د لویوالي له کبله مات او کمزوری شوی .

هغه  څه  ته زه اړتیا لرم چې مخکې مې ورته درلوده، چې هغه زما ایمان دی.. زه مې ایمان ته د دې لپاره اړتیا نه لرم چې ما به له دې حالت څخه وباسي او یا چې څه تېر شـــول هغه به هېر شي او یا به زما د اوښـــکو بهېدل ودرېږي، دا خو ضرور شـــته خو د مومن د زړه لپاره دا پکار دي چې په دې وخت کې کلک شي او شیطان ته اجازه ورنه کړي چې په زړه کې ځاله جوړه کړي او بیا وسوسې پکې واچوي .

زه مې ایمان ته اړتیا لرم.. د دې لپاره چې په دې ښـه باوري شـم چې په دنیا کې ځینې دردونه داســـې دي د کومو چې درملنه دلته(په دنیا کې) نه کېږي، او زموږ د محبوبینو له تگ وروســته موږ د هغوی د خبرو او جامو بوی ته هم منتظر پاتې کېږو، د دې لپاره چې د دوی له حال څخه مو لږ ډاډه کړي، او دېته ورته زخمونه هیڅ نه پټېږي؛ مگر دا چې موږ یې پټ کړو .

زه مې ایمان  ته اړتیا لرم.. د دې لپاره چې د نوح ؑ له زوی سره او د لوط ؑ له خپلې میرمنې سره هم جدایي را په یاد کړم، خو هغه یواځې په مرگ سره فراق نه وو، بلکې یو اور ته روان وو او بل جنت ته ..

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه مې ايمان ته اړتيا لرم.. د دې لپاره چې زه د آدم ﷺ له جنت سره فراق او جدايي را په ياد کړم، لکه څرنګه چې زما جنت زما د سترګو پر وړاندې پرته لدې چې زه څه وکړای شم، ورو ورو ولاړ .

د شهادت لوړ مقام ته د محمد د رسېدلو احساس زما سره د ده له زخمي کېدلو سره سم پيدا وو، خو ماته هيڅا پوره حقيقت نه ويل، او نه يې زه په شفاخانه کې د ده اطاق ته ورپرېښودم .

خو ما د هغوی حرکات څارل، د هغوی له يو بل سره مې پس پسک آورېدو، د محمد د شهادت خبره د هغوی په خولو کې وه خو هيڅا دا خبره په ژبه نه راوړه ..نوره زه هم پر دې نه پوهېدم چې په څه شي زما غوسه سړېږي او په څه باندې به زما په سينه کې د لګېدلي اور لمبې مړې کړي .

د پنجشنبې له ماښام څخه د شنبې تر ماښام پورې ... ما خپل ځان د غنې (جولاګۍ) د کور په شان کمزورو هيلو ته وسپاره، خو بيا مې هم د يوې شيبې لپاره دعا نه ده پريښې .

د دويمې ورځې پر سهار زه د هغه تليفون په زنګ له خوبه راپاڅېدم چې محمد ماته پرېښې وو، زما اوښکې رواني وې، سره لدې چې ما د هغو د وچوالي هڅه کړې وه .

د هغه خبر له آورېدلو وروسته چې زما د ژوند د بدلون سبب شو، ما په خپله سينه کې د داسې سکروټې احساس کاوه چې زما زړه سوځوي او داسې درد مې احساساوه چې زما د زړه رګونه څيرې کوي... خو په دې وخت کې زما ټوله هيله ستا ليدل وو، تر څو له دې خبرې څخه ډاډه شم.. ما په زړه کې خلک په دې خبره کې دروغجن ګڼل، او دا دردمنه پيښه مې نه منله، خو لدې سربېره مې په دغه وخت کې د الله ﷻ زياته ستاينه کوله.. او د مصيبت د راتګ پر وخت همدا ماته معلومه وه، زه پوهېدم چې ته زما کمزوري ليدل خوښ نه ګڼې ..

ما هغه ثانيې او دقيقې شمارلې چې زما او ستا د ورو ستې ملاقات تر منځ وې، ما فکر کاوه چې دا زما له ټول عمر څخه اوږدې شيبې دي..

دا داسې شپه وه چې ګويا سپوږمۍ تندر پکې نيولې وي، ما د ټولو خلکو سترګو ته کتل او ورته ويل مې چې که ته نه وې نو لدې وروسته سپوږمۍ هم نشته، او نه دا سې رڼا شته چې زما پاتې ژوند پرې روښانه شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ستاخواته د الله ﷻ لخوا په راکړي صبر او پوره توان سره درغلم، ستا جسد ته په ډاډه او آرام زړه درنېږدې شوم .

ما تا ته د خواشيني انسان چې ځان خوښ ښيي، وکتل.. تل چې ما تاته کتلي ته د ټولو خلکو تر منځ ښايسته انسان وې، خو مګر نن ورځ دې ښايست بدل شوی وو .

ستا په مخ کې داسې رڼا وه، چې له تا وروسته يې د دې ضمانت کاوه چې زما پاتې ژوند به روښانه وساتي، ستا په شونډو نرۍ موسکا چې ما ته په نرمۍ سره ستا د لقاء د انتظار توان راکوي .

ما ستا مخ مسح کړ.. خو احساس مې په زړه کې وو، نه په لاسونو کې.. ما تعجب وکړ، چې بې روحه جسد څنګه داسې نرم او تازه کېدای شي، څنګه دې جسد داسې پرقېدونکی او روښانه دی حال دا چې سخت زخمي او ټپي شوی .

ته باوره وکړه! هيڅ مې نه غوښتل چې تا يواځې پرېږدم، او دا ممکنه وه چې ما ټول عمر ستا په خوا کې پرته له ستړيا همداسې تېر کړی وای .

پټ مې ورته وويل: ای ليواله سترګو!

د تقدير همدا خوښه وه چې تا د ښکلي شهيد په څېر پورته کړي، د يوې اوږدې زماني لپاره دې تر خاورو لاندې کېږدي او يو نوي مخلوق ته دې ورښکاره کړي، چې مورږ نه دی ليدلی .

که مورږ پر دې فاني دنيا کې له يو بل جدا شوو، نو د الله ﷻ په امر به همېشنيو جنتونو کې له يو بل سره يوځای شو..

له تاسره، پر تا پورې او ستا لپاره هر څه ښکلي وو چې هيڅ به يې هېر نه کړم، او نه به د کلونو پر تېرېدو سره وران شي، دا ليکنه دې زما پر وينا باندې ګواه وي، ستا په اړه مې په ليکنه کې هسې يوه دوره وکړه، خو هر چې د زړه مسأله ده نو تر قيامته پورې به ته پکې ثبت او ثابت وې .

دا يو څو خورې ورې خبرې وې چې ما لوستونکي ته ستا په اړه وليکلي، نور له الله ﷻ څخه غواړم چې تا د قيامت په ورځ له پيغمبرانو، ريښتينو او شهيدانو سره راپورته کړي، او فردوس جنت دې ځای شي، زما ګرانه...

په دغه الفاظو باندې زه ځان ته دا ډاډ ورکوم، ګويا چې ما خپله فريضه ادا کړې . بيا:

مورږ خپل محبوب په خپلو فکرونو کې خښ کړی، او د الله ﷻ رضا او د هغه ثواب ته مو پرېښی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شهیدانو میرمنو ته پیغام

مورږ د الله ﷻ له رحمت څخه بېرته د هغه رحمت ته درومو او د الله ﷻ له تقدیر او مهربانۍ څخه بېرته د هغه تقدیر او مهربانۍ ته ورګرځو، کوم څه چې مورږ یې نن آزمېښت ګڼو، سبا ته د دې غوره نتیجه ښکاره کېږي .

انسان باید له مصیبت څخه ورو سته همېشه صبر وکړي، خپل ژوند ته ادامه ورکړي، لویه خطأ دا ده چې انسان له مصیبت سره سم هر څه ته د پای ټکی کېږدي .

د روح له قربانۍ څخه بله لویه قرباني نشته او نه له دې څخه بل لوی تاوان شته چې ته دا سې څوک له لاسه ورکړې چې تا ته د روح حیثیت لري.. خو د الله ﷻ لوی رحم دا دی چې دا قرباني شهادت ګرځوي.. او د مصیبت پېښېدل د صبر لپاره سبب ګرځي چې د دې دواړو (شهادت او صبر) اجر ډېر لوی دی .

زما په دې خبرو کې هغه ښځه مقصد ده چې تقدیر یې زما سره یو شان وي .

هغې مېرمنې ته چې د خپل روح یوه برخه یې له لاسه ورکړې چې له دغه برخې سره د وصال شیبې شماري.. او د هغه خواته د ورتللو فکر یې همېش په زړه کې میلمه وي .

هغې مېرمنې ته چې اولادونه ورته امانت پاتې دي ..

پر خپل ځان بوج مه راوله او په دې اوږده مزل کې له صبر څخه کار واخله ..

د چا په اړه چې مورږ د مړو ګومان کوو، هغوی ژوندي او د الله ﷻ میلمانه دي او په دنیا کې چې کوم څیز مورږ درد ګڼو، هغه درد په آخرت کې د جنت سـبب دی چې مورږ به له هغوی سره پکې یوځای کړي .

زه په ډاډ سره ویلی  شم، چې دوی ته دې دا  سودا مبارکه وي، په کوم کې چې هغوی سراسر ګټه کړې، له دې څخه لویه نیکمرغي چیرې ده چې الله ﷻ له یو چا څخه د هغه نفس واخلي تر څو د سپېڅلي دین دفاع پرې وکړي او مورږ ته دې هم دا ویاړ مبارک وي .

دا چې زه هم د شـــهید مېرمن یم او ته هم، او شـــهیدان هغه خلک دي چې الله ﷻ د زرګونه خلکو تر منځ غوره کړي، نو له دې به لویه نیکمرغي چېرته وي چې الله ﷻ هغوی د دې لپاره غوره کړي، تر څو د هغه په خوا کې وي، او له دې څخه به نوره نیکمرغي چېرته وي چې زمورږ لپاره د هغوی شفاعت حاصل شي او په جنت کې له هغوی سره یوځای شو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ای د شــهید مېرمنې! ســتا په غاړه اوس یو لوی امانت پروت دی، ســتا لپاره اوس ډېر کوښــښ په کار دی، مورې خو مخکې یواځې خبرې او وینا کوله خو اوس د عمل وخت راغلی .

د ژوند د کړاوونو لړې کولو لپاره دې د تېر ژوند خوږې خاطرې یوې خواته کړه، په تېر عُمر کې زړه ډاډه وو، نفس آرامه وو، د اطمینان خوبونه مې کول، نه مو د ســهار لپاره سوچ کاوه او نه د بیګاه غم راسره وو، خو اوس دا هر څه تغییر شوي .

اوس تر هر څه مهم ســتا اولادونه دي، ته په داســې زمانه کې ژوند کوې چې ټول مفاهیم بدل شـوي، مادیاتو د انسـان فطرت خراب کړی، نو ته باید په یو وخت کې مور او پلار دواړه و اوسېږې .

زه بیا هم درته وایم! چې په دې وخت کې زړه ماتې، ناکامو او شکست ځپلو خلکو ته ونه ګورې؛ ځکه چې هغوی تا ته پرته له خپګان څخه نور څه نه شي درکولی، پاڅېږه! یون وکړه او د کړېدلې امت لپاره تکیه ګاه جوړه شه .

اګر که ته ښــځه یې، خو ډېر او ډېر کارونه دي چې باید ته یې ترسره کړې، ســتا دنده ډېره لویه ده، باید چې ترسره یې کړې .

نو ځکه، ای خورکۍ! د کمزورو خلکو په خبرو پســې مه ګرځه، دا په یاد ولره چې تاریخ په خپلو پاڼو کې یواځې د سـړیو نومونه نه دي راوړي، بلکې د داسـې ښـځو نومونه یې هم ذکر کړي چې زرګونه سړي یې ځای ته نه شي ور رسېدای .

هغه ورځ راتلونکې ده چې مورې به په خپلو ټپونو پټۍ لګولې وي او په ډېر ویاړ سره به مو د عظمت جنډه او بیرغ اوچت کړی وي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د صبر او آزموینت په اړه یو څو کرښې

موږ انسانان یو، د پېښېدونکو پېښو په اړه په مطلق ډول پوهه نه لرو، او نه په دې پوهېږو چې له موږ سره څه کېږي، هغه د الله ﷻ په تقدیر کې رحمت دی او که عذاب، خو یو شـی چې ثابت دی، هغه دا دی چې آزموینه د الله ﷻ په وړاندې د بنده اوچتوالی دی، او د جنت د خاوندانو لپاره دا مناسـب دي چې آزموینه ورکړي، صـبر وکړي، د ثواب هیله من وي، په الله ﷻ ښه گمان ولري او له هغه ﷻ څخه مرسته وغواړي .

ماته دغه آزموینې ښه عبرت راکړ او له دې مصیبت څخه مې ډېر څه زده کړل..

ژوند د باور او مبارزې نوم دی، دلته د خو ښی شیبې نـشته، هغه فتح چې د اوس لپاره یې موږ نه وینو، نو دا خو څه خبره نه ده، باید چې په خپلو قربانیو د فتحې بیرغ اوچت کړو او له خپل ځان څخه دا پوښـتنه وکړو چې تر اوسـه مو څومره هڅه کړې او له دې وروسـته باید څومره هلې ځلې وکړو .

اوس مکلفیت ډېر لوی دی، نو باید چې خلک ویده وي موږ پاڅېږو، زموږ شــاوخوا خلک ناسـت وو او موږ کار پیل کړو، باید ځان ته صـحیح مسیر لکه څرنگه چې غوښـتنه راڅخه کېږي، برابر کړو، اگر که له خنډونو سره پکې مخامخ کېږو، هره اوښکه چې بهیږي، د خولو هر ځاڅکی چې څڅیږي او زخم چې رسېږي دا ټول د آخرت په لاره یون دی .

کله چې تېزباد راوالوزي د ونو ریښــې وخوځوي، کله چې په آســمان کې وریځې او بریښناوې راشي او په توره شپه کې ټولې خواوې له ویرې او وحشت څخه ډکې کړي، په دې وخت کې ثابت انسان هغه دی چې دې هر څه ته د عظمت په سترگه وگوري او خپل اذکار پیل کړي، هغه په دې باوري دی چې دا هر څه د الله ﷻ مخلوق دی، که د الله ﷻ خوښه وه، وي به او که یې نه وه خوښه، نو نه به وي...

هغه تېز باد چې زما پر سر تېر شو، دا توان یې درلود چې زما ایمان په لړزه راولي او زما روښانه باور له منځه یوسي؛ مگر زه له وسوسو څخه ونه ډاره شوم؛ ځکه چې د باور ریښې په زړه کې کلکې دي، او د دې ریښــو خړوبه کېدل له قرآن کریم او نبوي ســنتو څخه دي، زړه په دې باور لري چې ښه او بد ټول په تقدیر کې شته او د مرگ شیبې خامخا راتلونکې دي .

له آزموینې وروســته لاره ډېره اوږده او پیچلې ده، موږ باید دا فکر ونه کړو چې د ســترگو د رپ په اندازه به تېره شي، بلکې دا له موږ څخه پوره یو عمر غواړي، خو د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لارې لنډول او خپل منزل ته ځان رسـول پرته له دې چې صـحيح طريقه انتخاب کړو، بله لاره نه لري؛ ځکه نو په قرآن کريم کې د پيغمبرانو ذکر شوې پېښې او د صحابه کرامو ژوند د دې لارې د لنډولو لپاره غوره لارښود دی .

له دې کبله ته د دې لپاره زيات هڅاند و اوســه چې خپل زړه له الله ﷻ سره وتړې، د دنيا له محبت او چټليو څخه يې صــفا کړې، د آخرت لپاره کار وکړې، چې همدا آزموينه موږ د دې لپاره برابروي، نو زموږ هم پرته له صبر بله چاره نشته .

څوک چې د دنيا ژوند د دې لپاره پرېږدي چې مصــيبت مې لوی دی او له خپل غم، درد او مصيبت سره ځان مصـــــروف کړي، نو دا مناسب نه ده؛ ځکه چې آيا ته غواړې په دا سې حالت کې دې ته چوپ او گونگی پاتې شې چې شاوخوا خلک دې په ښه خوش آوازۍ باندې خبرې کوي؟ آيا ته دا غواړې چې د خرما نيالگی دې همداســې په لاس کې پاتې شي، ويې نه کرې، په داسې حال کې چې ته يې په کرلو مکلف شوی وې؟

پورته شه! دا هرڅه جنت ته په لومړي ځل کتلو سره هېرېږي او له منځه ځي .

پر الله ﷻ پورې له زړه تړلو پرته په ژوند کې آرام نشته، نه د الله ﷻ له حکم سره سم د کار په نه ترسره کولو کې برکت شـته او نه د غمونو له منځه وړلو پرته څه خوښـي شـته، د دنيا ژوند زړه هيڅکله نه پرېږدي چې له غم او خپگان څخه دې خالي شي، بلکې د دنيا د تکليف خو دا غوښتنه ده چې ته له ښځو سره کينې او له مبارزې پاتې شې ...

د نفس پالنه او روزنه يو لوی تعهد دی چې انسان ته وړاندې کېږي، نو خپل ايمان دې د خپل زړه په چاپېريال کې له سره راټول کړه، په صــبر، عبادت او آزمېښـــت سره دې د آخرت د کور آبادي پيل کړه، مخکې له دې چې په تېر وخت او فرصـت پښـيمانه شـې، په ډېر دقت او پوره ځيرکتيا سره تخم وشــينده، خپل کار دې داســې سرته ورســوه، گويا چې همدا وروستی چانس دی..

خپل عقل او احساس دې اوچت او برابر وساته پر يو بل يې مه وړاندې کوه، په داسې ډول چې ستا د سينې د خلاصون سبب شي؛ ځکه که داسې ونه کړې، نو کار به دې پرته له سوچ څخه ترسره کړی وي، او يا به دې سوچ کړی وي خو پر هغه به عمل نه وي، نو دواړه (سوچ او عمل) په تکر کې مه راوله .

نسـل به دې ژوند وکړي، کور به دې جوړ شي خو له چا سره چې زموږ مينه وه، هغوی زموږ څخه مخکې ولاړل، زموږ لپاره غېته تســلي دا ده چې هغوی الله ﷻ هغه ځای ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتخاب کړي وو، چې نه سترګو هغه ځای لېدلی، نه غوږونو د هغه په اړه څه آورېدلي او نه د کوم انسان په عقل کې د هغه په اړه څه سوچ تېر شوی .

موږ د هغوی (شـــهیدانو) په درجو باور لرو، او له الله ﷻ څخه غواړو چې زموږ لپاره یې سپارش کوونکي وګرځوي، زموږ لپاره پرته له دې بله لاره نشته، چې ځانونه د دې لپاره آماده کړو، تر څو د دې لوی خیر (شفاعت) اهل وګرځو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

**پایله**

دلته هر څه پیل او پای لري، لکه په دنیا کې ستا پای ته رسېدل او د آخرت ژوند پیل کول او یا هم لکه ددې کتاب پیل او پای، کوم چې ستا لپاره مرثیه(۷)، ستا په خاطر ویاړمن او له تا وروسته یو اثر پاتې شو .

ټوله پاکي هغه الله ﷻ لره ده چې زما پر زړه یې دسکینې (آرام) پټۍ ولګوله، او ما ته یې پر داسې څه صبر راکړ چې غرونه یې په وړاندې راپرېوځي، زه تاکید کوم لکه زما په دې دعا باندې تاکید، چې الله ﷻ دې تا د آخرت د پوښتنو پر مهال ثابت قدمه لري، ما له ځان سره د هغه مشکو بوی اخیستی، کوم چې له تا څخه خپرېدل، لاسونه مې ستا د مخ په هغه خوشبویي باندې خوشبویه کړي چې زما تر مرګه به هېر نه شي .

زه له درد، ډېر صبر او کمزوري همت سره ستا له خوا څخه راوګرځېدم... خو له دې څخه ډاډه یم چې د وخت په تېرېدو به ددې لپاره ډېره توانا شم ترڅو هغه مزل پوره کړم چې تا به زه همیشه هغه ته تشویق کولم .

ما ته یواځې پرېښودې، مګر تا زه یواځې نه یم پرېښودې... سره له دې چې ته لرې یې، خو زما په زړه کې ته همیشه او تل تر تله پاتې یې .

له دې درد، کړاو او خپګان وروسته چې تا دا نه دي لیدلي، زما تسلي ده او ته له موږ وروسته نیکمرغه یې؛ ځکه چې ما ستا په اړه دا کرښې او جملې راوړې او هڅه مې وکړه چې ستا له پېژندګلوۍ سره یوه شیبه تم شم، نو په هغه چا باندې دې څه ګمان دی چې تا له ما څخه ښه پېژني! ته به د الله ﷻ په حکم پرته له خوښۍ بل څه ونه ګورې .

ته د ملایکو په شان سپېڅلې، د نرم، ښکلي، مهربان زړه څښتن او ځلېدونکې ستورۍ وې چې په هیچا دې بد نه وو پیرزو .

زما اوښکې حق لري چې تل زما په اننګو باندې وبهېږي.. او ترڅو چې له تاسره نه وم یو ځای شوې تر هغه به ستا په پلونو خپل پل ږدم، ځکه چې تا زه وروسته د یو امت په شان پرېښودم .

**جمعه**

**۲۰۲۳/۱۱/۲۴ م**

---

۷- هغه وینا یا شعر چې په مړي پسې وروسته د یو چا لخوا ویل کېږي یا لیکل کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د عنوانونو لیکلړ

د ژباړن سریزه ............ ٣
سریزه ............ ٥
د ماشومتوب له سختیو او خاطرو څخه یو څو خبرې ............ ٧
د فراق لومړی شپه چې خلک یې یو له بل څخه لرې کړل ............ ١٠
د وخت طوفانونو هغه کمزوری نه کړ ............ ١٦
ته هر ځای نیکمرغه وې ............ ١٨
هغه وخت چې د څوارلسم سپوږمۍ پکې ډوب شوه ............ ٢٠
د محمد د ملګري (محمد جمال) بیان ............ ٢٣
د محمد د جنازې پر مهال ............ ٢٦
د محمد له ویناوو څخه ............ ٢٩
د محمد د پلار وینا ............ ٣١
د محمد له شهادت څخه وروسته ............ ٣٣
د شهیدانو میرمنو ته پیغام ............ ٣٦
د صبر او امتحان په اړه یو څو کرښې ............ ٣٨
پایله ............ ٤١

تم بحمد الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د اسلام د سپیڅلي دین لپاره قرباني ضرور ده .**




**« إنّ من أعظم الأعمال عند الله أن يجودَ الإنسان بنفسه وجسده وروحه فداءً للإسلام وأهله » .**

**« د الله ﷻ په نزد تر ټولو اوچت عمل دا دی چې انســان د اســلام او مســلمانانو لپاره د ځان، روح او جسد قرباني ورکړي » .**

(د اتل شهید محمد عثمان له ویناوو څخه)





**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**